مسئولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

نورمحمد لاهو ۲۰۲۲/۰۸/۲۲

په ګلونو بار آسونه

یوه ورځ دواړه ضرور یوې کشتۍ کې
لکه دوې کوچې مرغۍ!
د اورونو له سیندونو
د سپوږمۍ سپینې کیږدۍ ته کډه کیږو
خو ته مه مایوسه کیږه!
چې بیړۍ مو وچې ځمکې ډوبه کړې
او ترکانو مو د زاړه بلوط په څیر خپلې اړې دې قتل کړې
او میخونو د ګلونو تازه ملاوې پر دیوال ټینګې نیولې
او تختې هم دغو خلکو تابوتونو ته ساتلې
دنګ چنار دې په خوږو سترګو مین دی
ستا د پاره یې کشتۍ خپل کمیسه کې پټه کړې
ګوره تا ته په کتو لکه یو نوی په ځوانۍ راغلی ځوان څنګه رپیږې؟
زه او ته ضرور رسیږو
هغه ځای ته چې د لمر رڼا په خلکو نه خرڅیږي
او مرغان یې د قفس اورونه لمانځي په سندرو
پسرلی یې د څوکسو په ګلدان کې اسیر نه وي
زه او ته ضرور رسیږو هغه ځای ته
چې شمال یې ایلبندو کې په پیکیو پسې ګرځي
په ګلونو بار آسونه شین خالیو پسې ګرځي
شړل شوی ګلاب ناست وي ننه باغ کې
او مُلا هم د ساقي له سپینو ګوتو سرې لمبې تیروي زړه ته
زه او ته ضرور رسیږو
ته یوازې دومره وکړه
چې د سیند له آیینوسره دې تور اوربل عادت شي
راځه!
لوړه اول زده کړو
ډوډۍ خپله راشنه کیږي

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ